Bi-Quarterly

Volume 3, Issue 1, Spring & Summer 2026

GHALIB MEDICAL JOURNAL
(MJ)

Journal Homepage: https://www.mj.ghalib.edu.af

ISSN
P: 3105-0786
E: 3006-094X

OPEN ACCESS

Publisher: Ghalib University-Herat | https://doi.org/10.58342/MJ.V.3.I.1.10

# Descriptive hospital-based cross-sectional study of hypertension in Ali Abad Teaching Hospital

(Place and time of Research: Kabul, 1402–1403 Hijri)

Hekmatullah Saadat[1]

[1.] Lecturer, Bayazid Rokhan Institute of Higher Education, Kabul, Afghanistan (hekmatsaadat9@gmail.com)

**Article Info**

**Article type:** Research Article

pp:153-167

**Received:** 22/11/2025
**Accepted:** 21/01/2025
**Published:** 21/03/2026

**ABSTRACT**

**Background and Objective:** Hypertension (HTN) is diagnosed when blood pressure is ≥140/90 mmHg in two consecutive measurements taken in a calm environment after at least five minutes of rest in a seated position. HTN is a major public health problem that contributes significantly to mortality, disability, hospital admissions, prolonged hospital stays, and increased healthcare costs. Several factors are associated with hypertension, which are broadly classified into non-modifiable factors (such as age, gender, family history, diabetes, and kidney disease) and modifiable factors (including unhealthy diet, physical inactivity, smoking, alcohol consumption, and obesity). The objective of this study was to determine the prevalence of hypertension among hospitalized patients at Ali Abad Teaching Hospital and to identify the key risk factors associated with HTN.

**Method:** This descriptive hospital-based cross-sectional study included 246 hypertensive patients. Data were collected over a 12-month period from September 2024 to August 2025 using medical records of patients hospitalized in Ali Abad Teaching Hospital. The inclusion criteria consisted of all male and female inpatients admitted to the internal medicine department, while patients with hypertension who visited the hospital but were not hospitalized were excluded.

**Findings/Result:** A total of 2,877 patients were included in the study, among whom 246 patients (8.55%) were diagnosed with hypertension. Of these patients, 88 (35.77%) were male and 158 (64.22%) were female. More than half of the hypertensive patients (51.21%) were between 40 and 60 years old. Regarding smoking status, 43 patients (17.47%) were smokers and 203 (82.52%) were non-smokers. A positive family history of hypertension was reported by 45 patients (18.29%), while the majority had unknown family history. In terms of

body mass status, 18 patients were obese and 29 were overweight, whereas most patients had normal body weight.

**Conclusion:** The prevalence of hypertension among hospitalized patients was 8.55%, with a higher proportion observed in women. The findings suggest that smoking and family history are among the most common risk factors for hypertension. Female gender, obesity, and increasing age were also identified as notable contributing factors.

**Keywords:** Hypertension, Masked hypertension, resistant hypertension, White coat hypertension.

**Cite this article:** Saadat H. Descriptive hospital-based cross-sectional study of hypertension in Ali Abad Teaching Hospital. *Ghalib Medical Journal*. *Ghalib Medical Journal*. [Internet]. Publication date. 21.03.2026; 3 (1): 153-167: https://doi.org/10.58342/MJ.V.3.I.1.10

This article is licensed under a Creative Commons Attribution 4.0 International License

دوفصل‌نامه

دورهٔ ۳، شمارهٔ ۱، بهار و تابستان ۱۴۰۵

# مجلهٔ علوم طبی غالب
(MJ)

صفحهٔ اصلی مجله: https://www.mj.ghalib.edu.af

ISSN
P: 3105-0786
E: 3006-094X

OPEN ACCESS

https://doi.org/10.58342/MJ.V.3.I.1.10

ناشر: پوهنتون/ دانشگاه غالب - هرات

# په علي اباد تدريسي روغتون کې د داخله بستر ناروغانو ترمنځ د لوړ فشار (HTN) کچه: تشریحي مقطعي څېړنه (د څیړني ځای او وخت: کابل، ۱۴۰۲ - ۱۴۰۳ هـ. ش)

حکمت الله سعادت[۱]

[۱]. د بایزید روښان د لوړو زده کړو د مؤسسي د طب پوهنځي دپارا کلینیک دیپارتمنت علمي کادري غړی، کابل، افغانستان (hekmatsaadat9@gmail.com)

اطلاعات مقاله

نوع مقاله: پژوهشی

صفحات: ۱۵۳-۱۶۷

**تاریخ دریافت:** ۱۴۰۴/ ۰۹ /۲۰

**تاریخ پذیرش:** ۱۴۰۴/ ۱۱/ ۲۵

**تاریخ نشر:** ۱۴۰۵/ ۰۱/ ۰۱

## چکیده

**شالید او موخې:** ددې څېړنې اساسي موخه داده چې تر څو د علي آباد تدریسی روغتون داخله خانگه کی ( داخله بستر ناروغانو کې ) د Hypertension پیښو کچه معلومه شي. او د هایپرتینشن عمده خطري فکتورونه وپیژنو. او همدارنګه د HTN پېښې د عمر/جنس/سګرت/BMI/کورنۍ تاریخچې له مخې څنګه وېشل شوې دی .

**د څېړنې طریقه (میتودولوژي):** دا څیړنه یوه hospital-based cross-sectional Descriptive څیړنه ده چې په ۲۴۶ تنوهایپرتینشن لرونکو ناروغانو باندې چې دعلی آباد شفاخانی داخله خانګه کی بستر وو ترسره شوې ده ، Data مو د (۱۲) میاشتو په جریان کې یعني د ۱۴۰۲ ل کال د میزان میاشتې نه تر ۱۴۰۳ ل کال د سنبله میاشتې پورې د medical records پواسطه چې علی آباد تدریسی روغتون کی بستر وه راټوله کړیده. په Inclusion Criteria کې ټول هغه داخل بستر ښځینه او نارینه ناروغان چې د علی آباد تدریسی روغتون داخلی ځانګی ته یی مراجعه کړی وه شامل وه او په Exclusion Criteria کې ټول هغه ناروغان چې هایپرټنسن لری اوعلی آباد تدریسی روغتون ته یی مراجعه کړی بستر شوی نه دی شامل وه.

**پایلي/لاسته راوړني:** په دې څېړنه ۲۸۷۷ ناروغانوګډون درلود چې د دې ناروغانو له ډلي څخه ۲۴۶(۸،۵۵٪) په هایپرتینشن اخته وو،چې د دی ناروغانو له ډلی څخه ۸۸ (۳۵,۷۷٪) یې نارینه او ۱۵۸(۶۴,۲۲٪) یې ښځینه و. د ۲۴۶ ناروغانو له ډلې څخه ۱۲۶ (۵۱,۲۱٪) ناروغان چې عمریې(۴۰-۶۰) وو په هایپرتینشن اخته وو. د ۲۴۶ ناروغانو له

ډلې څخه ۵۴ تنوعمرد (۴۰ـ۵۰) پورې وو،او ۷۲ تنو عمرد (۵۱-٦۰) وو. د ۱۲٦ناروغانو له ډلې څخه ۳۴ (٪۲٦,۹۸) یي نارینه او۹۲ (٪۷۳,۰۱) یي ښځینه واوهمدارنګه د HTN په شاملو ناروغانو کې ۴۳ تنه) ٪۱۷,۴۷ (ناروغان یی سګرت څکونکي وه او ۲۰۳ تنه )٪۸۲,۵۲ (ناروغانو یی سګرت نه څکول ، د جنس له نظره ۱۳ تنه ښځینه ناروغان سګرت څکونکي وه او نور ټول سګرت څکونکي یي نارینه وه. دهایپرټینشن دڅیړنې په ګډونوالو کې ۴۵ تنو (٪۱۸,۲۹) ناروغانو کې د HTNکورنۍ تاریخچې شتون درلود او ۲۷ تنو )٪۱۰,۹۷ (ناروغانو کې کورنۍ تاریخچې شتون نه درلود او۱۷۴ (٪۷۰,۷۳) ناروغانوکورنۍ تاریخچه نامعلومه وه.او د څیړنې په ګډونوالو کې۱۸ تنه ناروغانو چاغي درلوده ، ۲۹ تنه ناروغانو اضافي وزن درلوده او پاتې ۱۹۹تنو ناروغانو اضافي وزن او چاغي نه درلوده .

**نتیجه‌گیری:** زما د څېړنې څخه معلومه شوه چې د وینی لوړفشار پېښې ۲۴٦ دي چې پېښې په ښځینه وو کې نسبت نارینه وو ته زیاتې وې .اوددې څیړنې له پایلو څخه جوته شوه چې د HTNپه خطري فکتورونو کې سګرت څکول او د HTN کورنی تاریخچه په لوړه کچې شتون درلود همدارنګه ښځینه جنس،چاغې او د عمر لوړوالی هم مهم خطري فکتورونه وګڼل شول.

**کلیدواژه‌ها:** هایپرټینشن، ماسک هایپرټینش، ریزستینت هایپرټینشن، وایت کوټیټ هایپرټینشن.

**ارجاع به این مقاله: سعادت ح**. په علي اباد تدریسي روغتون کې د داخله بستر ناروغانو ترمنځ د لوړ فشار (HTN) کچه: تشریحي مقطعي څېړنه (د څیړنې ځای او وخت: کابل، ۱۴۰۲ – ۱۴۰۳ هـ. ش). *مجلۀ علوم طبی غالب*. [اینترنت]. ۰۱/ ۰۱/ ۱۴۰۵. [تاریخ برداشت]؛ ۳(۱): ۱۵۳–۱۶۷:https://doi.org/10.58342/MJ.V.3.I.1.10

این مقاله تحت مجوز بین‌المللی Creative Commons Attribution 4.0 International License منتشر شده است.

## سریزه

لوړ فشار(Hypertension) که چېرې د یو ناروغ د وینې فشار په ارام چاپېریال او د استراحت په حالت کې، په دوو پرله‌پسې اندازو کې 140/90 mmHg≤وي، نو دې حالت ته د لوړ فشار (Hypertension) نوم ورکول کېږي (۱). لوړ فشار یو معیوبوونکی اختلاط دی چې شتون یې د مړینې، معلولیت، روغتون ته د بستر کېدو، په روغتون کې د اوږدې مودې پاتې کېدو او د روغتیایي لګښتونو ـد زیاتوالي سبب ګرځي. لوړ فشار بېلابېل خطر فکتورونه لري چې په دوه ډوله وېشل کېږي:

۱. نه بدلېدونکي (Non-modifiable) خطر فکتورونه :عمر، جنس، د کورنۍ تاریخچه.

۲. بدلېدونکي (Modifiable) خطر فکتورونه :شکر، د پښتورگو ناروغی، سگرېټ څکول، د وزن زیاتوالی او نور.

د National Health and Nutrition Examination Survey د احصایې له مخې، په ۲۰۱٦ کال کې په United States کې شاوخوا ۴۵٪ بالغانو د وینې فشار له ۱۴۰/۹۰ mmHg څخه لوړ درلود (۲). د وینې لوړ فشار ناروغي تر ډېره په وروسته پاتې او د کمزوري اقتصاد لرونکو هېوادونو کې زیاته لیدل کېږي (۳). په Ghana کې په یوه تشریحي څېړنه کې چې په ۷۱۲ ناروغانو ترسره شوې وه، ۱۸۵ تنه (۲٦٪) په لوړ فشار اخته وو. له نارینه‌وو څخه ۸۲ تنه (۱۱,۵۲٪) او له ښځو څخه ۱۰۳ تنه (۱۴,۴۸٪) په لوړ فشار اخته وو (٤). په Tigray Teaching Hospital کې په ۵۷۸ ناروغانو ترسره شوې بله تشریحي څېړنه ښيي چې ۱۲۸ تنه (۲۲,۱٪) په لوړ فشار اخته وو؛ له دې ډلې ۵۳ تنه نارینه (۹,۱٦٪) او ۷۵ تنه ښځې (۱۲,۹۴٪) وې (٥). همدارنگه په Ethiopia کې په درېیو روغتونونو کې په ۵۸۱ ناروغانو ترسره شوې څېړنه کې ۱۰۲ تنه (۱۷,٦٪) په لوړ فشار اخته وو؛ له دې ډلې ۳۷ تنه نارینه (٦,۳٦٪) او ٦٥ تنه ښځې (۱۱,۲۴٪) وې ( ٦). بله څېړنه چې په Kathmandu University کې د ۲۰۲۱-۲۰۲۲ کلونو ترمنځ په ۳۸۵ د لوړ فشار لرونکو ناروغانو ترسره شوې وه، وښوده چې ۱۰۰ تنه (۲۵,۹۷٪) چاغ وو او ۲۸۵ تنه (۷۴,۰۲٪) نورمال وزن درلود. په افغانستان، په ځانگړې ډول په Ali Abad Teaching Hospital کې د لوړ فشار د پېښو او خطر فکتورونو په اړه منظمې احصایې شتون نه لري؛ له همدې امله د دې موضوع په اړه څېړنه خورا مهمه او اړینه ده.

## مواد او د څېړنې طریقه

دا څېړنه د تشریحي ـ مقطعي (Descriptive Hospital-Based Cross-Sectional) په بڼه ترسره شوې ده. څېړنه د یو کال په موده کې پر ۲۴٦ تنه د هایپرټینشن لرونکو ناروغانو باندې ترسره شوې ده. معلومات د ۱۲ میاشتو په جریان کې، یعنې د ۱۴۰۲ لمریز کال د میزان میاشتې څخه تر ۱۴۰۳ لمریز کال د سنبله میاشتې پورې، (Medical record) له لارې راټول شوي دي. یاد ناروغان د علی‌آباد تدریسي روغتون په داخله څانگه کې بستر وو. راټول شوي معلومات لومړی مایکروسافټ ایکسل ته داخل او وروسته د SPSS نسخې ۲٦ (SPSS Version 26) په وسیله تحلیل شوي دي. د ناروغانو د دوسیو د ارزونې لپاره د علی‌آباد تدریسي روغتون د طبي اخلاقو

(Medical Ethics) له ډيپارتمنت څخه ليکلې اجازه اخيستل شوې ده. همدارنگه، د ناروغانو د محرميت د ساتنې په موخه د هغوی د نومونو له يادولو څخه ډډه شوې ده.

### د شاملېدو معيارونه

ټول هغه ښځينه او نارينه ناروغان چې د علی‌آباد تدريسي روغتون داخله څانگې ته مراجعه کړې او بستر شوي وو، په څېړنه کې شامل شوي دي.

### د نه شاملېدو معيارونه

ټول هغه ناروغان چې هايپرټينشن لري خو ياد روغتون ته يې مراجعه کړې او بستر شوي نه دي، له څېړنې څخه خارج شوي دي . که چيرته ديوناروغ فشار Stage 1: 140–159 / 90–99 په نوم سره ياديږی. او که چيرته ديوناروغ فشار Stage 2: ≥160 / ≥100 په نوم سره ياديږی.

### لاسته راوړنې

پدې څېړنه ۲۸۷۷ناروغانوگډون درلود چې د دې ناروغانو له ډلې څخه ۲۴٦ (۸،۵۵٪) په هايپرټينشن اخته وو،چی د دی ناروغانو له ډلی څخه ۸۸(۳۵,۷۷٪)يې نارينه او۱۵۸(٦۴,۲۲٪) يې ښځينه و. د۲۴٦ ناروغانو له ډلې څخه ۱۲٦(۵۱,۲۱٪)ناروغان چی عمريی (۴۰_٦۰) وو په هايپرټينشن اخته وو. د۲۴٦ ناروغانو له ډلی څخه ۵۴ تنوعمرد (۴۰_۵۰) پوری وو،او ۷۲ تنو عمرد (۵۱-٦۰)وو. د ۱۲٦ناروغانو له ډلی څخه ۳۴(۲٦,۹۸٪) يې نارينه او۹۲(۷۳,۰۱٪) يې ښځينه واوهمدارنگه د HTN په شاملو ناروغانو کې ۴۳ تنه (۱۷,۴۷٪) ناروغان يی سگرت څکونکي وه او ۲۰۳ تنه (۸۲,۵۲٪) ناروغانو يی سگرت نه څکول ، د جنس له نظره ۱۳ تنه ښځينه ناروغان سگرت څکونکي وه او نور ټول سگرت څکونکي يي نارينه وه. دهايپرټينشن دڅيړنې په گډونوالو کې ۴۵ تنو (۱۸,۲۹٪) ناروغانو کې د HTN کورنۍ تاريخچې شتون درلود او ۲۷ تنو (۱۰,۹۷٪) ناروغانو کې کورنۍ تاريخچې شتون نه درلود او۱۷۴ (۷۰,۷۳٪) ناروغانوکورنې تاريخچه نامعلومه وه (ناروغ نه پوهېده).او د څيړنې په گډونوالو کې۱۸ تنه ناروغانو چاغي درلوده ، ۲۹ تنه ناروغانو اضافي وزن درلوده او پاتی ۱۹۹تنو ناروغانو اضافي وزن او چاغي نه درلوده .

لومړی جدول- په گروپونو د عمر ويشنې له نظره د HTN د ډولونو پيښې راښيي

| عمر | د HTN ډول | د HTN پیښې د شمیر له مخې | پیښې د HTNد %سلنه له مخې |
|---|---|---|---|
| 1 گروپ (18-39) | Stage one HTN | ۹ | ۳,٦۵٪ |
| | Stage two HTN | ۹ | ۳,٦۵٪ |
| 2 گروپ (40-50) | Stage one HTN | ۳۴ | ۱۳,۸۲٪ |
| | Stage two HTN | ۲۰ | ۸،۱۳٪ |
| 3 گروپ (51-60) | Stage one HTN | ۴۸ | ۱۹,۵۱٪ |
| | Stage two HTN | ۲۴ | ۹,۷۵٪ |
| 4 گروپ (61-80) | Stage one HTN | ۵۹ | ۲۳,۹۲٪ |
| | Stage two HTN | ۳۴ | ۱۳,۸۲٪ |
| 5 گروپ (81-95) | Stage one HTN | ۴ | ۱,٦۲٪ |
| | Stage two HTN | ۵ | ۲,۰۳٪ |
| مجموعه | Stage two HTN | ۲۴٦ | ۱۰۰٪ |




اول چارت -په گروپونو د عمر ويشني له نظره په مجموعي ډول د HTN پيښې رانښيي.

## د جنس له نظره د HTN پيښې

د جنس له نظره دا نتيجه لاسته راغله چې له ۲۴٦ تنو ناروغانو له جملې څخه په ۸۸ تنه نارينه ناروغانو کې HTN شتون درلود او په ۱۵۸ تنه ښځينه ناروانو کې HTN شتون درلود چې د لا ښه وضاحت لپاره لاندې چارت کې ترتيب شوي دي .




دوهم چارت- د جنس له نظره په مجموعی ډول دHTN پیښې رابنیي

## د سگرت څکولو له نظره د HTN پیښې

ددی څیړنې له پایلو څخه جوته شوه چې د HTN په شاملو ناروغانو کې ۴۳ تنه (۱۷,۴۷٪) ناروغان یی سگرت څکونکي وه او ۲۰۳ تنه (۸۲,۵۲٪) ناروغانو یی سگرت نه څکول.




دریم چارت –په HTN کې سگرت څکونکي ناروغان رابنیي

### د چاغي له نظره د HTN ناروغانو شننه

ددې څیړنې پایلو څخه جوته شوه چې د څیړنې په ګډونوالو کې۱۸ (BMI=30-40) تنه ناروغانو چاغي درلوده ، ۲۹(BMI=25-30) تنه ناروغانو اضافي وزن درلوده او پاتې ۱۹۹(BMI=18.5-25) تنو ناروغانو اضافي وزن او چاغي نه درلوده.

دویم جدول- د چاغي له نظره د HTN ناروغان راښیي

| د BMI له نظره د چاغي تقسیم بندي | د HTN پیښې د شمیر له مخې | د HTN پیښې د سلنه له مخې% |
|---|---|---|
| هغه ناروغان چې BMI یې (18.5-25) ده | ۱۹۹ | %۸۹.۸۰ |
| هغه ناروغان چې BMI یې (25-30) ده | ۲۹ | %۱۱,۷۸ |
| هغه ناروغان چې BMI یې (30-35) ده | ۱۴ | %۵,٦۹ |
| هغه ناروغان چې BMI یې (35-40) ده | ۴ | %۱,٦۲ |
| مجموعه | ۲۴٦ | %۱۰۰ |

### بحث

څرنګه چې د هایپرټنشن ناروغی پېښې په ټوله نړۍ کې په ځانګړي ډول زموږ په ټولنه کې زیاتې رامنځته کیږي چې د مړینې لامل کیږي .نو له دې کبله په دې څېړنه کې چې دکابل پوهنتون علې آباد تدریسي روغتون داخله څانګه کې د ۰۱/ ۰۷/ ۱۴۰۲ څخه تر۳۰/۶/ ۱۴۰۳ پورې ترسره شوې د هایپرټینشن ناروغې د ناروغانو مجموعه ۲۴٦ وه .د دې ناروغانو له ډلې څخه یې ۸۸(۳۵,۷۷٪) یې نارینه او۱۵۸(٦۴,۲۲٪) یې ښځینه وې .له ډلې څخه ۱۲٦(۵۱,۲۱٪) ناروغانو عمرونه د(۴۰ـ٦۰) کلنې وو، واوهمدارنګه د HTN په شاملو ناروغانو کې ۴۳ تنه (۱۷,۴۷٪) ناروغان یې سګرت څکونکي وه او ۲۰۳ تنه (۸۲,۵۲٪) ناروغانو یې سګرت نه څکول .دهایپرټینشن دڅیړنې په ګډونوالو کې ۴۵ تنو (۱۸,۲۹٪) ناروغانو کې د HTN کورنۍ تاریخچې شتون درلود او ۲۷ تنو (۱۰,۹۷٪) ناروغانو کې کورنۍ تاریخچې شتون نه درلود او۱۷۴ (۷۰,۷۳٪) ناروغانوکورنې تاریخچه نامعلومه وه.او د څیړنې په ګډونوالو کې۱۸ تنه ناروغانو چاغي

درلوده، ۲۹ تنه ناروغانو اضافي وزن درلوده او پاتې ۱۹۹تنو ناروغانو اضافي وزن او چاغي نه درلوده که خپله څېړنه د نورو څېړنو سره پرتله کړو نو یو څه اندازه توپیر شتون لري.

په یوه تشریحی څېړنه چې د افریقا هیواد په گانا کې په یو پولي کلینک کې په ۷۱۲ تنو ناروغانو ترسره شوې وه چې له دې ډلې څخه ۱۵۲ (۲۱,۳٪) نارینه او ۵٦۰ (۷۸,۷٪) یې ښځینه وي .نوموړو ناروغانو عمرونه د ۱۹ – ۹۰ کلنۍ پو رې وو چې منځنی عمر یې ۵۹ کاله وو پدی کې ۱۸۵ (۲٦٪) ناروغان په هایپرټینشن اخته وو، د نارینه ؤ له ډلې څخه ۸۲ (۱۱,۵۲٪ ) ناروغان په هایپرټینشن او د زنانه ؤ له ډلې څخه ۱۰۳(۱۴,۴۸٪) ناروغان د هایپرټینشن په ناروغۍ اخته وو (٤).

دریم جدول: د افریقا څېړنې سره پرتله کیدنه

| څېړنه | نارینه | ښځینه | HTN |
|---|---|---|---|
| زما څېړنه | ۸۸(۳۵,۷۷٪) | ۱۵۸(٦۴,۲۲٪) | ۲۴٦(۸,۵۵٪) |
| د افریقا څېړنه | ۸۲ (۱۱,۵۲٪) | ۱۰۳ (۱۴,۴۸٪) | ۱۸۵ (۲٦٪) |

یوه بله تشریحی څېړنه چی Tigray teaching hospital کې په ۵۷۸ تنو ناروغانو ترسره شویده چې له دې ډلې څخه ۲۸۸ (۴۹,۸٪) نارینه او ۲۹۰(۵۰,۲٪) یې ښځینه وي .۱۲۸(۲۲,۱٪)تنه په هایپرټینشن اخته وو، د نارینه ؤ له ډلې څخه ۵۳ (۹،۱٦٪) ناروغان په هایپرټینشن او د زنانه ؤ له ډلې څخه ۷۵(۱۲،۹۴٪) ناروغان د هایپرټینشن په ناروغۍ اخته وو .د نوموړو ناروغانو عمرونه د ۳۰ - ۸۷ کلنۍ پو رې وو .چې منځنی عمر یې ۵۴ کاله وو (۵).

څلورم جدول: د Tigray teaching hospital څېړنې سره پرتله کیدنه

| څېړنه | نارینه | ښځینه | HTN |
|---|---|---|---|
| زما څېړنه | ۸۸(۳۵,۷۷٪) | ۱۵۸(٦۴,۲۲٪) | ۲۴٦(۸,۵۵٪) |
| دTigrayروغتون څېړنه | ۵۳ (۹,۱٦٪) | ۷۵(۱۲,۹۴٪) | ۱۲۸(۲۲,۱٪) |

یو بله څېړنه چې د Ethiopia هېواد په درېو روغتونو کې په ۵۸۱ تنو لرونکو ناروغانو ترسره شوې ده چې له دې ډلې څخه ۲٦۱ (۴۴,۹٪) یې نارینه او ۳۲۰ (۵۵,۱٪) یې ښځینه وې .منځنی عمر یې ۵۴.۷ کلونه وو .۱۰۲(۱۷,٦٪) تنه په هاپرټینشن اخته وو، د نارینه ؤ له ډلې څخه۳۷ (٦،۳٦٪) ناروغان په هاپرټینشن او د زنانه ؤ له ډلې څخه ٦۵(۱۱،۲۴٪) ناروغان د هاپرټینشن په ناروغۍ اخته وو

پنځم جدول: د Ethiopia ښځینو سره پرتله کېدنه

| ځیږنه | نارینه | ښځینه | HTN |
|---|---|---|---|
| زما ځیږنه | ۸۸(۳۵,۷۷٪) | ۱۵۸(٦۴,۲۲٪) | ۲۴٦(۸,۵۵٪) |
| هېواد ځیږنه Ethiopia د | ۳۷ (٦,۳٦٪) | ٦۵ (۱۱,۲۴٪) | ۱۰۲(۱۷,٦٪) |

یو بله ځیږنه چې Kathmandu طبی پوهنتون کی د ۲۰۲۱-۲۰۲۲ کال کی په ۳۸۵ هاپيرنينشن لرونکی ناروغانو ترسره شوی ده . له دی ډلی څخه ۱۰۰ (۲۵,۹۷٪)کسانو چاغوالی درلود ، اوپاتی نور ۲۸۵ (۷۴,۰۲٪) کسانو نارمل وزن درلود.

شپږم جدول: د Kathmandu طبی بوهنتون ځیږنې سره پرتله کیدنه

| ځیږنه | سگرت څکونکی | سگرت نه څکونکی | HTN |
|---|---|---|---|
| زما ځیږنه | ۴۳ (۱۷,۴۷٪) | ۲۰۳ (۸۲,۵۲٪) | ۲۴٦ |
| Kathmandu | ۱۰۰ (۲۵,۹۷٪) | ۲۸۵ (۷۴,۰۲٪) | ۳۸۵ |

یوه بله ځیږنه چې د چین هیواد په جنوب لویدیځ کې په۱۰۵۸۹ تنو ناروغانو چې عمرونه یی د ۴۰-۷۹ کلنی ووتر سره شوی ده ، له دی ډلی څخه۳۸۲۳ یې نارینه او٦۷٦٦ یې ښځینه وې. چی له دې ډلی څخه ٦۰۸۳ (۵۷,۴٪)یی هاپيپرټينشن لرونکی وو، په د ناروغانوکی ۲۴۱۰ (۳۹,٦٪) چاغوالی درلود او پاتی ۳٦۷۳ (٦۰,۳۸٪) یی نارمل وزن درلود. (National instates of Health)

اووم جدول: د چين هیواد ځیږنې سره پرتله کیدنه

| ځیږنه | چاغوالی | نارمل وزن | HTN |
|---|---|---|---|
| زما ځیږنه | ۴۷ (۱۹,۱۰٪) | ۱۹۹ (۸۰,۸۹٪) | ۲۴٦ |
| چین هیواد | ۲۴۱۰ (۳۹,٦٪) | ۳٦۷۳ (٦۰,۳۸٪) | ٦۰۸۳ |

په پای کې ویلای شم چې زما او د نړیوالو څېړنو ترمنځ یو څه توپیرونه شتون لري.چې د توپير ممکنه لاملونه ممکن (فرهنگي، اقتصادي، جغرافيايي، ميتودولوژيک) وی .زما په څېړنه کې دHTN پېښې٪۸,۵۵ وې چې د افریقا څېړنې سره زیات توپیر لري چې په هغوی کې د HTN پېښې (٪۲٦) وې، په داسې حال کې چې د Tigray روغتون او د Ethiopia څېړنې سره هم توپیر شتون درلود چې په دې څېړنه کې د HTN پیښې په ترتیب سره (٪۲۲,۱) او (٪۱۷,٦) وي. چې

نسبت زما څېړنې ته زیاتی دي چې دکموالی ممکنه لاملونه يې په وخت روغتون ته مراجعه نه کول، په روغتون کې د پرمختللو وسایلونه شتون او دعامه پوهاوی نه شتون دی. په چین هیواد کی چی کومه څیړنه ترسره شوی ۳۹,٦٪ ناروغانو چاغوالی درلوده زما په څیړنه کی ۱۹,۱۰٪ ناروغانو چاغوالی درلوده چی پیښی یی نسبت چین هیواد ته کمی دی . په Kathmandu پوهنتون کی چی کومه څیړنه ترسره شوی ۲۵,۹۷٪ ناروغانو سگرت څکوونکی وو او زما په څیړنه کی ۱۷,۴۷٪ ناروغان سگرت څکوونکی وو چی پیښی یی نسبت Kathmandu هیواد ته کمی دی.

اتم جدول: د نورو څېړنو سره د پرتله کېدنې لنډيز

| څیړنه | افریقا څیړنه | روغتون څیړنهTigray | څیړنهEthiopia | زما څیړنه |
|---|---|---|---|---|
| ټول نفوس | ۷۱۲ | ۵۷۸ | ۵۸۱ | ۲۸۷۷ |
| HTN | ۲٦٪ | ۲۲,۱٪ | ۱۷,٦٪ | ۸,۵۵٪ |

**محدودیتونه**

۱. دناروغانوپواسطه د توصیه شوو معایناتو نه ترسره کول.
2. هایپرتینشن په اړه دخلکو ناخبری ترڅوپه مناسب وخت کی داکتر تخمراجعه وکړی.
۳. په کافی اندازه د تجربیی نشتون.
۴. Hospital-based sampleد ټولنې لپاره generalizable نه دی
۵. Missing family historyډېر لوړ وو
٦. Confounding factors (diabetes, CKD, meds, salt intake, activity)نه دي سنجول شوي

**وړاندیزونه**

۱. ټولو ډاکترانو ته په کار دي چې دلوړ فشارولرونکو ناروغانو ته د وزن د کموالي سپارښتنه وکړي.
۲. ټولو ډاکترانو ته په کار دي چې دلوړ فشارولرونکو ناروغانو ته د سکریټ نه څکولو سپارښتنه وکړي.
۳ . ددوینی د لوړ فشار او د هغه د اختلاطاتو په هکله باید عامه پوهاوی زیات شي.

## پایله

زما د څېړنې څخه معلومه شوه چې د هایپرټنشن پېښې ۲۴۶ دي چې پېښې په ښځینه وو کې نسبت نارینه وو ته زیاتې وي.اوددې څیړنې له پایلو څخه جوته شوه چې په HTN پېښو کې سگرت څکول او د کورنۍ تاریخچه نسبتاً زیات موجود وو . همدارنگه ښځینه جنس،چاغې او د عمر لوړوالی هم مهم خطري فکتورونه وګڼل شول.

## تقدیر او منته

د دغې څیړنې څیړونکی د بایزید روښان د لوړو زده کړو د مؤسسې د مسلکي پراختیا له آمر ډاکټر وحیدالله حافظ څخه په مراتبو نړی منته کوي چې د دغې څیړنې په ترتیب کې یې نه ستړې کیدونکې هلې ځلې کړیدي.

## ORCID

**Hekmatullah Saadat** https://orcid.org/0009-0000-9132-0066

## References

1. Del, A. Q. (2019). Cardiovascular diseases (3rd ed., Chap. 4, p. 59). Nangarhar Medical Faculty.
2. McPhee, S. J., & Papadakis, M. A. (2021). Current medical diagnosis and treatment (59th ed., p. 317). McGraw-Hill.
3. World Health Organization. (2011). Global status report on noncommunicable diseases 2010. World Health Organization.
4. Osafo, C., Mate-Kole, M., Affram, K., & Adu, D. (2011). Prevalence of chronic kidney disease in hypertensive patients in Ghana. Renal Failure, 33(4), 388–392. https://doi.org/10.3109/0886022X.2011.565140
5. Bahrey, D., Gebremadhn, G., Mariye, T., Girmay, A., Aberhe, W., et al. (2019). Prevalence and associated factors of chronic kidney disease among adult hypertensive patients in Tigray teaching hospitals: A cross-sectional study. BMC Research Notes, 12, 562. https://doi.org/10.1186/s13104-019-4610-8
6. Anteneh, H., Habtamu, S. M., Masresha, A. T., & Chilot, D. A. (2021). Prevalence and associated factors of chronic kidney disease among adult hypertensive patients at Northwest Amhara referral

hospitals, Northwest Ethiopia, 2020. International Journal of Hypertension, 2021, 5515832. https://doi.org/10.1155/2021/5515832

7. Tailakh, A., Evangelista, L. S., Mentes, J. C., Pike, N. A., Phillips, L. R., & Morisky, D. E. (2014). Hypertension prevalence, awareness, and control in Arab countries: A systematic review. Nursing & Health Sciences, 16, 126–130. https://doi.org/10.1111/nhs.12060

8 . Chow, C. K., Teo, K. K., Rangarajan, S., Islam, S., Gupta, R., Avezum, A., et al. (2013). Prevalence, awareness, treatment, and control of hypertension in rural and urban communities in high-, middle-, and low-income countries. JAMA, 310, 959–968. https://doi.org/10.1001/jama.2013.184182

9. Messerli, F. H., Rimoldi, S. F., & Bangalore, S. (2017). The transition from hypertension to heart failure: Contemporary update. JACC: Heart Failure, 5(8), 543–551. https://doi.org/10.1016/j.jchf.2017.04.012

10. Levey, A. S., Coresh, J., Balk, E., et al. (2003). National Kidney Foundation practice guidelines for chronic kidney disease: Evaluation, classification, and stratification. *Annals of Internal Medicine*, *139*, 137–147. https://doi.org/10.7326/0003-4819-139-2-200307150-00013

11. Akpa, M. R., & Unamba, N. N. (2017). Asymptomatic chronic kidney disease and correlates in untreated hypertensive patients attending a referral hospital in southern Nigeria. Clinical Practice, 6(1), 9–13. https://doi.org/10.5923/j.cp.20170601.02

12. Hadi, S. (2019). Gastrointestinal and renal system diseases (Chap. 10, pp. 153–162). Afghanistan Times Printing Press.

13. Kumar P, Clark ML. Kumar & Clark's Cases in Clinical Medicine E-Book: Kumar & Clark's Cases in Clinical Medicine E-Book. Elsevier Health Sciences; 2020 Oct 9.